SHARIAT
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
شپږم کال ١٤ مه گڼه پرله پسې (٣٩٤) یکشنبه د١٤٢١هـ ق کال د ذي القعدة الحرام (٢٤)
د١٣٧٩هـ ش کال د سلواغي دمیاشتې (٣٠) د٢٠٠١ میلادي کال د فبروري (١٨)

ایران له مخـالفینو سره پوځی مـرستی کـوی

امریکا غږ راډیو :
د برتانیې د جیمز دیفنز ویکلي معتبري نشریې د فبروري د میاشتې په وروستي گڼه کې خبریال آنتوني بوریس لیکي چې ایران د افغانستان د مخالفینو د تقویه کولو له پاره څو سوه تازه پوځونه ورلیږلي دي دسه
پوځونه چې د تیر عیسوی کال په وروستیو ورځو کې له مشهد نه د افغانستان شمال ختیځو علاقو ته استول شوي د قوماندان اسمعیل خان طرفداران دي چې په ایران کې یې پوځی زده کړه تر سره کړې .
جیمز دیفنز ویکلي لیکي چې
اسمعیل خان له هغه وخت نه چې له افغانستانه تبتیدلی دی په ایران کې یې د مهاجرو له کمپونو ځوانان استخدام کړي او پوځی تعلیم یې ورکړی. دا پوځونه له مشهد نه تاجکستان ته په الوتکو کې استول شوي او له هغه ځای نه بیا د ص ٤

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، ممدا (عدل) دیر نژدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

به نصرت و یاري خداوند بزرگ

مرکز ولایت بامیان از لوث ملیشه هاي مزدور تصفیه گردید

ملیشه هاي مزدور و همپیمانان کمونستي شان بصوب کوه هاي دور دست فرار نمودند

نیرو هاي جدیدالورود اردوی اسلامی کاملاً وضعیت را تحت سلطه خود در آورده اند

در مرکز و حومه شهر بامیان عملیات تصفیوي جریان داشته و مردم زندگي عادي خود را از سر گرفتند

بامیان - شریعت :
به نصرت و یاري خداوند توانا مرکز ولایت مرکزي بامیان باستان از لوث ملیشه هاي مزدور و همپیمانان کمونستي شان تصفیه و پاکسازي گردید.
مجاهدین دلیر و فاتح اردوي اسلامي با استعداد و آمادگي تمام عیار حوالي ساعت ٨:٣٠ صبح یوم شنبه وارد مرکز شهر ص ٤

معاون کوفي عنان در کابل موافقه نمود که :

منبعد هیئت خاص امارت اسلامي میتواند به خارج از کشور سفر نماید

کابل - شریعت :
در نتیجه، صحبت هاي که شاغلي اوشیما معاون سرمنشي سازمان ملل متحد هفته گذشته بامسؤولین وزارت خانه هاي امور خارجه، صحت عامه و عودت مهاجرین امارت اسلامي در کابل انجام داد طرفین روي ایجاد یك گروپ کاري غرض انجام خدمات بشري در افغانستان بین دفاتر ملل متحد و ادارات امارت اسلامي توافق نمودند.
محترم مولوي عبدالرقیب وزیر عودت مهاجرین ضمن تائید این مطلب جزئیات موضوع را به خبرنگار ما چنین توضیح داد : اعضاي این گروپ که متشکل از هیئت ملل متحد و امارت اسلامي افغانستان بوده و هیچگونه گرایش و ستراتیژي سیاسي در چوکات ص ٤

امارت اسلامي خواهان برگشت ده هزار مهاجر افغان از مناطق سرحدي به ساحات مصؤن کشور میباشد

کابل - شریعت :
در صورتیکه به شمول کمشنري عالي ملل متحد هر موسسه خیریه بین المللي دیگر مسولیت انتقال و اکمال ده هزار از مهاجرین ولایت تخار را که اخیراً در کنار دریاي آمو جابجا شده اند به عهده گیرد؛ وزارت عودت مهاجرین امارت اسلامي افغانستان حاضر است تا آنها را مطابق تقاضاي شان در ساحات و مناطق تحت حاکمیت ص ٤

په ننگرهار کې تقلبی درمل وسوځول شول

ننگرهار - باختر :
پنځوس کارتنه دول دول تیر تاریخ او تقلبی درمل پرون د جلال آباد ښار د مخابراتو په چوک کې په عام محضر کې وسوزول شول.
پنځوس کارتنه دول دول تیر تاریخ او تقلبی ٤ مخ

موسسه ACRU ۶۰۰ خانواده را از تهدید کمبود آب نجات داد

لوگر - شریعت :
طی ٣ ماه موسسه اکرو توانست به کمك ٦ هزار کارگر محلی ٦٠٠ خانواده را در قریه سرخاب ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر از تهدید کمبود آب آشامیدنی صحی نجات دهد .
ظهر چهارشنبه گذشته شبکه آبرسانی قریه متذکره طی مراسم خاصی از جانب هیئت رهبری ولایت ، ٤ مخ

په جوزجان کې :

د چټک پست نمایندگی پرانستل شوه

جوزجان - باختر :
د جوزجان ولایت مرکز شبرغان په ښار کې د باختر د چټک پست د خصوصي شرکت نمایندگي پرون پرانستل شوه.
په هغې غونډه کې چې له همدې امله د جوزجان ولایت د مخابراتو ریاست د منسوبینو او د باختر د چټک پست شرکت د نمایندگۍ د مسولینو په گډون د جوزجان ولایت په مرکز شبرغان کې جوړه شوې وه . د ٤ مخ

در یکي از تانك هاي توزیع تیل در کابل : تیل خاك، دیزل و پطرول ۱۰ فیصد ارزانتر از نرخ بازار عرضه میگردد

کابل - شریعت :
تانك تیل نو آباد دهمزنگ در کابل که مربوط ریاست انحصارات میگردد همه روزه طور آزاد تیل خاك، دیزل و پطرول را براي شهروندان شهر کابل ١٠ فیصد ارزانتر از نرخ بازار عرضه مینماید.
مبارك شاه مسؤل تانك ص ٤

آسیاب نمبر اول سیلوی مرکزی مجدداً فعال گردید

کابل - شریعت :
بعد از ٨ سال وقفه آسیاب برقی سیلوی مرکزی کابل دو باره فعال گردید.
یك منبع مسؤل در زمینه به خبرنگار ما چنین اظهار داشت : سیلوی مرکزی کابل دارای ٢ آسیاب برقی بوده که هر کدام ظرفیت تولید ٢٠٠ تن آرد را در شبانه روز دارا می باشد البته این آسیاب قادر است تا در ٢٤ ساعت ٢٠٠ تن گندم را تخنیك پاك کاری ص ٤

په هرات کې په میشتو مهاجرینو باندې د مرستو ویش دوام لري

هرات - باختر :
د هرات ولایت په اړوندو کمپونو کې په میشتو مهاجرینو باندې د امارتي ارگانونو او د بهرنیو غیر حکومتي خیریه موسسو او د خیر پالو خلکو د مرستو د ویش لړی دوام لري .
دغه تکي د هرات ولایت د ص ٤

د کابل ولایت د شهیدانو او مهاجرینو رئیس محترم قاري عبدالمجید عمري له «شریعت» سره په مرکه کې :

د ملگرو ملتونو بندیزونه د افغانانو د نورو مهاجرتونو لامل گرځي

که د ملگرو ملتونو بندیزونه همدا شان ادامه پیدا کړي ښایی په هیواد کې د داخلي مهاجرینو وضعیت نور هم خراب او لا به د نورو هیوادوالو د مهاجرتونو لامل وگرځي .
د شهیدانو او مهاجرینو رئیس محترم قاري عبدالمجید عمري د شریعت اوونیزې له خبریال سره د یوې مرکې په ترڅ کې څرگند کړ . دده وویل : همدا اوس په هرات بغلان مزار شریف کندز ٤ مخ

به سرمایه یك ملیاردو هفتصد ملیون افغاني :

یک پارکینگ وسایط نقلیه در شهر هرات احداث گردید

هرات - شریعت :
بزرگترین توقفگاه یا پارکینگ وسایط باربري در شهر هرات احداث گردید.
محترم ملا عبدالخالق «فیصل» رئیس ترانسپورت سکتور خصوصي ضمن تائید این خبر به خبرنگار ما ص ٤

دکابل پوهنتون دمحصلانو دچارو ریاست مرستیال محترم ملاعلي احمدملاخیل له «شریعت» سره په مرکه کې :

سږ کال د کانکور په ازموینه کې ۸۰۰۰ تنو محصلینو برخه درلوده

دکابل پوهنتون لیلیه فعاله او ۲۷۰۰ تنه محصلین پکې شامل دي

شریعت : قدرمنو لوستونکو! زموږ خبریال داخل کابل پوهنتون ته سر ورښکاره کړی او دمحصلانو دچارو ریاست له مرستیال محترم ملاعلي احمد ملاخیل سره یې د دغه ریاست داړوندو چارو او فعالیتونو په باب مرکه کړې چې دادي ستاسي دمطالعې لپاره یې خپروو.
په پیل کې محترم ملاخیل داسې وویل : لکه څرنگه چې تېولو هیوادوالو ته څرگنده ده دلوړو زده کړو وزارت هرکال دخپلو اړوندو تحصیلي موسسو دلوړو تولگیو لپاره دهیواد دمرکز او ولایتونو دمدرسو د دولسو ټولگیو فارغان دکانکور په آزموینه کې ترگډون کولو او بریالیتوب وروسته یې - سږکال هم ددغې پروسې دسه ترسره کیدو په مقصد په اوو مرکزونو ٤ مخ

کابل پوهنتون سره مرسته وشوه

کابل - باختر :
په لندن کې زموږ د هیواد یو میشت ملی او فرهنگي شخصیت محترم سید بلال احمد فاطمی د ٤٥٠٠٠ پاکستانی کلدارو په ارزښت دول دول علمي کتابونه د کابل پوهنتون ته ورکړیدي.
محترم فاطمی ٤ مخ

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

په کوکنارو بندیز او نړیوال اعتراف

دادی بالآخره ملگرو ملتوهم ومنله چې دافغانستان داسلامي امارت تر واکمنۍ لاندی سیمو کې سږ کال دکوکنارو کښت نه دی شوی او ټولی هغه کروندې چې پخوا به کوکنار پکې کرل کیدل اوس غنم او بانور فصلونه پکې کرل شوي دي .
هغه سروې او کتنه چې په دې وروستیو کې دنړیوالو اداری له خوا دافغانستان په لر اوبر کې ترسره شوې ، څرگندوي چې داسلامي امارت له فرمان سره سم په بشپړ ډول دکوکنارو کرل بندشوي او هیڅ کومه کرونده یې نه ده لیدل شوې . دملگرو ملتو دغه اعلان په حقیقت کې داسلامي امارت په یو ډیر ٢ مخ

په فلسطین کې :

د مجاهدینو او صهیونیستي ځواکونو ترمنځ سختي نښتي دوام لري

په نیول شوی فلسطین کې پرون د فلسطیني مجاهدینو ، مهاجرینو او د فلسطیني مجاهدینو او صهیونیستو اشغالگرو ترمنځ سختي نښتي وشوې.
اسرائیلي اشغالگرانو دنبیتو په بهیر کې د غزې د ساحل د لویدیځ د جبرون په ښار کې دوه تنه فلسطینیان شهیدان او لس تنه نور ټپیان شول.
د رام الله په ښار کې او د غزې په ترانگه کې نوی ناآرامی ٤ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان ټیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

ستر نړیوال بریالیتوب باندی شاهدی ویل دی او داځکه چی هیڅا هم دا باورنه شو کولای چی اسلامی امارت به په بوداسی جګړه ځپلی هیواد کی چی وچکالی او نړیوالو بندیزونو لانورهم له اقتصادی ستونزو سره مخامخ کړی وی ، په دی ډول یو معجزه توګه دکوکنارو هغه کرنه بنده کړی چی نږدی له پنځوسو کلونو را په دی خوا یی رواج درلود ، داحقیقت هم ټولو نړیوالو ته څرګند دی چی ملګرو ملتونو ، نورو بشری خیریه موسسو او باکوم بل هیواد هم په دی برخه کی له «امارت» سره هیڅ ډول مرسته نه ده کړی . نو په دغسی حالاتوکی یقیناً دا یوبل ډیر لوی بری دی چی دالله تعالی په فضل او کرم داسلامی امارت په برخه او له خپلو هیوادوالو سره سره یی نور نړیوال هم ددی مؤذی بوټی له خطره وژغورل . افغانان که څه هم له دوو لسیزو را په دی خوا سختو جګړو ځپلی ، وچکالی پری راغلی او دنړیوالو بندیزونو له دباو سره مخامخ شوی، چی خامخا به په دی برخه کی له نړیوالو نه د مرستی هیله لری؛ خو بیا هم د خپلو دینی اصولو او ټولنیزو اخلاقو د ساتنی په لار کی هر ډول سرښندنی ته چمتو او یوازی د څو پیسو لاس ته راوړلو په خاطر هری ناروانه لاس نه اچوی او له همدی کبله نړیوالو د سر په سترګو ولیدل چی د مخدراتو د بشپړ بندیز په هکله له اسلامي امارت سره د عام ولس له خوا په کلکه ملګرتیا وشوه او دا دی د لوی خدای «ج» په فضل د افغانستان مسلمان او غیرتی خلک له یو داسی خطرناک ټولنیز انحراف څخه وژغورل شول چی کیدای شی په راتلونکی وخت کی یی ډیری بدمرغی پایلی درلودلی وای، اوس نو په خپلواکو حکومتونو ، تنظیمونو او عامو نړیوالو پوری اړه لری چی د ملګرو ملتو د هغو بندیزونو په هکله غور اوڅیړنه وکړی کوم چی د اسلامی امارت پر خلاف یی لګولی که څه هم مونږ نه د مخدراتو مربوط کیمیاوی موادو او نه په جنګ جګړو کی د چا مرستی او وسلو ته اړتیا لرو خو د ګیلی او تعجب ځای دا دی چی همدغه امنیت شوری له یوی خوا د اسلامی امارت نه د مخدراتو او جنګ جګړو بندیز غواړی خو له بلی خوا مخالفینو ته هم د مخدراتو او هم د وسلو ښه په څرګنده اجازه ورکوی! نه پوهیږو بی ځایه تعصب او حسد څومره د هغوی سترګی ړندی کړی چی په هیڅ ډول واقعیتونه نه شی لیدلای او د خپل بی ځایه ضد او غرور په نتیجه کی د مخدراتو په شان بشری ناورین په هکله هم خپل ځانګړی مصلحتونه لټوی . اوس باید نړیوال په جدی توګه درک کړی چی د یو ملت دینی او ملی ارمانونه هیڅوک هم نه شی تر پښو لاندی کولای ، نو دا چی افغان مومن ولس د اسلامی امارت تر څنګ ولاړ دی، یو بشپړ واقعیت دی او نړیوال باید د افغانانو دغی پریکړی ته په درنه سترګه وګوری، د نړیوالی خیر ښیګنی په چارو کی مرسته ورسره وکړی او د دغسی یو نظام د بی ثباته کولو او مشکلاتو را پیدا کولو نه ډډ وکړی، ګورو به چی ملګری ملتونه او نور خپلواک هیوادونه ددغو واقعیتونو او نړیوال اعتراف په وړاندې څه ډول چلند غوره کوي ؟

د زوي په څهره کي د پلار تاریخ

عبدالله ګل ربان

یوه ورځ له معمول سره سم د کار د میز خواته ناست او د جنرال یار محمد خان وزیر د خاطراتو کتاب راته غوړیدلی پروت وو، دا موضوع می پکښی کتلی وه چی یو وخت یار محمد خان دکندز وزیرستان د خلکو په مشری د استقلال د جګړی په مجاهدینو کی ولاړ او شاولی خان ورته د مامور دریځ درلود خو د جنرال یار محمد خان په ۹۵ کلنی کی شاولی خان د افغانستان د پوځ خورا ستره رتبه درلوده او جنرال یار محمد خان یی د روبی څخه سر ټکولی وو ، مجاهد یار محمد خان دا خاطره د لوی خدای په حکمت او قدرت حمل کړی او وایی یوازی خدای دا قدرت لری چی څوک یو ځل څرنګه او بیا څرنګه کړی.

مجاهد جنرال د مجاهدینو فتوحات ذکر کړی او بیا وایی چی د تل مرکز مجاهدینو فتح کړ خو نادر خان ته مو وویل چی نمایشی فتحه یی ته وکړه، هغه چی د جهاد په دوران کی یی یوه مرمی هم فیر کړی نه وه د توپ نمایشی ډزی یی وکړی. نوموړی زیاتوی موږ نادرخان ته وویل : دا فتحه شوی ځایونه، سنګرونه او د جنګ مورچلی که د جهاد د لیکو د مشرانو په نومونو ونومول شی. ملی تاریخ او شخصیتونه به درانه شوی وی...

نور نه پوهیږم د کتاب کومی پانی می حافظی ثبت کولی چی شعبی ته یو ځوان راغی ، څیره یی نابلده او عادی پوښتنه می ورسره وکړه وروسته یی ځان داسی راته وښود غلام محی الدین د ډګروال انور خان زوی د زراعت د پوهنځی څخه فارغ شوی یم.

د شهید ډګروال صاحب بل زوی ما د کندهار په پوهنتون کی هم لیدلی وو د هغوی له شخصی اصلاح تدین او اخلاقو سره سره د حضرت خضر او حضرت موسی «ع» کیسه راته یاده شوه چی : و کان ابوهما ... د داسی ځوانانو خدمت او عزت د هغوی د پلار د هغه احسان له کبله هم باید وشی چی خپل سر یی قربانی کړی او د ملت همداسی ځوانان یی د کفر او الحاد له منګولو ژغورلی دی .

ډګروال انور خان شهید د لوګر اوسیدونکی په ګردیز کی وظیفه درلوده د ۱۳۵۷ کال د ثور د میاشتی تر کمونستی کودتا وروسته چی کمونستانو د معمول په خلاف د ماموریتو ترفیع د سنبلی د میاشتی په بدل کی د ثور په میاشت کی اجرا کولی د نوموړی شهید د جنرالی د ترفیع کارت راغلی وو، خو با ایمانه شهید هغه محفل ته حاضر نشو، وروسته یی د خپل غیابت دلیل داسی ویلی وو چی وجدان می اجازه را نکړه څو د کمونست له لاسه د خپلی ترفیع کارت واخلم.

شهید ډګروال له همغی شیبی چی په هیواد کی کمونستی کودتا وشوه د نورو مسلمانو هیوادوالو په څیر له روسی کمونستی ښکیلاک او د هغوی له مزدور رژیم سره د جهاد او مقابلی په تکل کی وو، څو د ډګروال عظیم خان په مشری په یوه اسلامی پاڅون کی ور ګډ او د پکتیا د دریمی قوا او نورو مجاهدینو چی شمیر یی نږدی ۱۵۰۰۰ کسان اټکل شوی وو مشری او لارښوونه یی کوله ...

د کمونستانو په وړاندی ددی اسلامی پاڅون نیټه د ۱۳۵۷ کال د سرطان د میاشتی نهمه نیټه غوره شوی وه .

لدښته لې په یاد دی، کمونستانو به له موږ څخه د تحقیق په استعلام کی لیکل : «اقدام خاینانه، ۸-۱۳۵۷/٤/۹» مقدرات داسی وو چی دا پاڅون مخته تر وخت د بی پروایی ښکار او مسلمانان ونیول شول. شهید انور خان هم بندی شو، ټول بندیان ٦۰ کسه وو لومړنی ګروپ چی یی کابل ته نقل کړل، ۱۸ کسه وو دا اتلس کسان ټول په محبس کی شهیدان شول. شهید انور خان لکه څرنګه چی په ژوند د مجاهدینو مشر وو د بند او شهادت د کاروان په سر کی هم هغه روان وو روح دی خوشحاله،ارمان دی پوره او په اولاد دی برکت شی.

د شهید انور خان بل ورته نږدی ملګری ډګرمن زمانخان وو، رښتیا چی د ویښتانو زیږوالی یی د همت ژباړه کوله

دا به می هم هیر نشی چی موږ ۱۳ کسه د ګردیز د دافع هوا په یوه زیر خانه کی بندیان وو لاسونه مو ولچک او ولاړ وو د کمونستانو د وخت د پکتیا د قول اردو قوماندان حسین فراهی راغی، ډګرمن زمانخان ته یی وویل دا د افغانستان د اردو بدبختی ده چی تا غوندی شخص په بندی خانه کی دی...

د غـرمی دوډی راغلـه، شهید زمانخان په دروازه کی له پیشی سره ولاړ عسکر ته وویل : عسکر جانه اجازه ده چی زه یوه خبره وکړم، هغه د سر په خوزېدلو هو کړل،

و عسی ان تکره ... ولوست او معنی یی کړ او بیایی موږ ته وویل هغه شعار ولولی او په دوډی بسم الله کړی شعار د داود د وخت پاته او په دیوال ځوړند وو .

« آنچه را ما امروز انجام میدهیم تاریخ در باره، آن قضاوت خواهد کرد . »

شعار یوه منلی خبره وه او تری وړاندی ایت شریف خو مو د ایمان خبره ده. ډګرمن صاحب یی له دی زیرخانی څخه بهر ویوست او بیا له هغه ځایه د شهیدانو په کاروان کی لاړ .

په دی اسلامی پاڅون کی بل داسی څوک چی څهری یی لا د یوه تصمیم نمایندګی کوله هغه جګتورن محمد رسول خان وو چی په امیر کیمیا باندی مشهور و، نوموړی له انور خان او زمان خان سره په یوه زیرخانه کی، خو هر یو تر یوی، یوی پورتانیقی خیمی لاندی و، د هغی زیرخانی په مشترک دهلیز کی بله زیرخانه زموږ لپاره ځانګړی شوی وه هغه دوه هلیکاپترونه راغلل کومو چی همدا بهادران یی کابل ته وړل او د زیرخانو څنګ ته کښیناستل . محمد رسول خان

له ولچک شویو لاسونو سره له خپلی خیمی او زیرخانی دهلیز ته راووت، ګوتی یی سره سرویلی او ویل یی : خدای «ج» خو دی سره ګډه کړی ما ورته وویل : امیر صاحب دا بندیان به ضایع شی، هغه وویل : موږ دی دلته مړه شو خو دا کفر دی خدای ورک کړی ...

جګتورن صاحب هم د انور خان او زمان خان ملګرتیا د شهادت تر پولی ورسره ورسوله لوی خدای «ج» دی په جنت کی هم سره ملګری کړی.

ددی پاڅون او ښند په نومیالو کی بل کس تورن خیال محمد خان و نوموړی هغه وخت د انضباط د ټولی قوماندان و چی ددی پاڅون د قوماندی مرکز ټاکل شوی و.

د خیال محمد خان په قسمت کی د نور خدمت برخه هم وه اعدام نشو او تر څه مودی بند وروسته را خلاص شو .

د هجرت او جهاد شرف لوی خدای «ج» ورته حاصل کړ او بیا د جهاد په مورچل کی د شهادت په وياړ هم سرلوړی شو. په شهادت سره یی هغه امید هم پوره شو کوم چی د شهید شویو ملګرو د لیدلو یی درلود.

د ۱۳۷٤ هـ ش کال د وږی د میاشتی په دریمه لسیزه کی می له پاکستان څخه د راتللو لاره د ارګون په نږدیلی بازار را برابره کړه، هلته می د یوه درملتون لوحه د شهید تورن خیال محمد په نوم ولیدله .

باور وکړی درملتون راته سنګر ښکاره شو او دفکر نیلی می په یوه ګړندی حرکت د محبس په ستونزو د هجرت په کړاوونو او د جهاد په سنګرونو را وګرځید ...

د شهید ډګروال انور خان د زوی په لیدلو خو می ذهن ډیر پراوو نه ووهل او تر تللو وروسته یی هم

زما حافظی همدا پانی را اړولی . د هیواد د هری طبقی، مسلک او قوم خلک راته یاد شول چی د روسانو او په افغانستان کی د کمونستی نظام په وړاندی یی په ښه عقیده او اراده او پاک نیت جهاد وکړ، ملک یی له بهرنیانو او د هغوی له مزدورانو څخه وژغوره، اسلامی نظام ته یی لاره پرانستله او هغوی ددی نعمت په بدل کی د خپلو سرونو نذرانه هم ورکړه چا په سنګر کی د شهادت مرمی په خپله سینه کی توده کړه او چا په محبس کی د شهادت جام په سر واړاو ...

نو کاشکی مو د جهاد په نوم موزیم او ارشیف درلودلای، د مجاهدینو په نومونو مو د یادګار ځلی ښارونه، سړکونه، کلی، ناحیی، روغ... ،نو... مدرسی، علمی مرکزونه او نور یادګارونه جوړ کړی ، د جهاداو د جهاد د لاری د شهیدانو په کارنامو مو کتابونه لیکلی، کنفرانسونه او سیمینارونه مو دایر کړی وای. له یوی خوا به مو همدا شهید محسنین درانه کړی او د دعا کولو پاره به مو ورته اسباب برابر کړی وای او له بلی خوا هغه تور داغونه چی د څوبی کفایته مسولانو په کړو وړو، د جهادی تحریک په لمن او د مجاهدینو په تنهو د پاټکی، ټوپکی، فسق او فساد په نومونو لګیدلی په استثنی کی راوستلی وو، تاریخ او راتلونکی نسل ته به مو د رښتونی جهاد او د وروستنی فساد تاریخ په ښکاره تورو کی سره بیل کړی و رښتیا به هم د درس او عبرت اخستلو یوه لړی موږ ژوندی ساتلی وه ...

که می پورتنی «کاشکی» د معقولیت جامه لری نو د درنو مسولینو او هر هغه چا چی وس لری ورته پاملرنه غواړم، څو تر خپله وسه (انسان په خپل وس پړ دی) د سپیڅلی جهاد د لاری د غازیانو او شهیدانو په یادګارونو زموږ راتلونکو نسلونو ته یو ښتمن او بډای جهادی فرهنګ پریږدی او که می پورتنی «کاشکی» د معقولیت له چوکاټ څخه وتلی وی ،نو بیا زه ددی کاغذ د توږولو بخښنه غواړم.

د غرمي ډوډې راغله، شهید زمانخان په دروازه کي له پیشي سره ولاړ عسکر ته وویل : عسکر جانه اجازه ده چي زه یوه خبره وکړم، هغه د سر په خوزېدلو هو کړل، ډګرمن صاحب دا ایت شریف « وعسي ان تکره... ولوست او معني یې کړ او بیایې موږ ته وویل هغه شعار ولولي او په ډوډې بسم الله کړي شعار د داود د وخت پاته او په دیوال ځوړند وو .

« آنچه را ما امروز انجام میدهیم تاریخ در باره، آن قضاوت خواهد کرد . »

شعار یوه منلي خبره وه او تري وړاندي ایت شریف خو مو د ایمان خبره ده. ډګرمن صاحب یې له دې زیرخانې څخه بهر ویوست او بیا له هغه ځایه د شهیدانو په کاروان کي لاړ .

متصدي صفحه : استاد آرین خیبر

بهرني سپورتي خبرونه :

فوټبال :

د آسترالیا د فوټبال ملي ټیم د دوستانه سیالیو د سرته رسولو پخاطر هندوستان ته تللی دی تو موري ټیم به چې د نړی د ټلو ټیمونو څخه دی او په ډیرو سیالیو کی یې د نړی د یرو ټیمونو ته ماتی ورکړی ده د هند د فوټبال له ملی ټیم سره سیالی وکړی.

* * * * *

په دی وروستیو وختو کی د چین د فوټبال ملی ټیم سویډن ته تللی و چی د سویډن د فوټبال د ملی ټیم سره سیالی وکړی د غه سیالی د زرګونو لیدونکو په وړاندی په مساویانه توګه پای ته ورسیده او د چین د فوټبال ملی ټیم بیرته خپل هیواد ته ستون شو

* * * * *

د انګلستان د المپیک کمیټی د بریتانیا د فوټبال ټولو کلپونو ته غږ کړی چی تر دوو اوونیو پوری دی خپلو ټولو لوبغاړو ته پاسپورتونه جوړ کړی ۰

د انګلستان د فوټبال ټولو ټیمونو ته خبر ورکړ شوی چی هغه ټیمونه چی د اروپایی ټولنی له سیالیو نه بهر لوبی کوی مجبور او مکلف دی چی تر دوو اوونیو پوری پاسپورتونه جوړ کړی .

کرکټ

سیف وا د آسترالیا د کرکټ د ټیم کپتان ویلی چی غواړی د آسترالیا د کرکټ ټیم د نړیوالو سیالیو اتلوالی وګټی. ده ویلی چی د آسترالیا د کرکټ ټیم د نړی د ټلو ټیمونو څخه دی او په راتلونکو سیالیو کی به د نړی د کرکټ اتلوالی وګټی.

پندهاي استاد بروسلي

تمرین ، قدرت واستقامت

با اینکه طرز برخورد تان درست است ، و با اینکه قلبتان سر شار از صبر و شکیبایی است اما به هیچ وجه ضامن حفظ حیات تان نیست . ممکن است سالها براي یادگیري هنري که این همه دوست اش دارید ، زحمت بکشید . ولي از نفس افتادن تان در مبارزه نشانگر آن است که :

تاوقتیکه بدنتان بتواند بار بیشتري را تحمل کند ، به مقدار زیادي کار وتمـــرین ، روزي سـه یا چند میل دویدن نیاز دارید . سپس روزي فرا میرسد که حقیقـت را در میابید و وقتي به آسمان مي نگرید نفسي تازه کنید که : «مهـــارت درکار خوب است ، اما براي اثبات قدرت وتوانایي کافي نیست »

فعالیت کلب هاي آزاد ورزشي در جامعه از اهمیت خاصي برخوردار است

محترم شعیب رحماني

علاقمندان محترم ورزش!

خبرنگار ما اینبار از کلپ تکواندوي یوسف عظیمي واقع مدرسه خواجه عبدالله انصاري دیدن نموده وگزارش را تهیه کرده که با هم میخوانیم .

کلپ تکواندوي یوسف عظیمي تحت نظر استاد شعیب رحماني مدت چند سال میشود که در خدمت قشر جوان مملکت قرار دارد و همـه روزه در چند تایم در خدمت ورزش دوستان محترم قرار دارد .

محتره شعیب رحماني تمـــرینات تکواندو را در فـدراسـیـون تکواندوي افـغـانسـتـان به پایه اکـــمال رسانده است .

وي فعلاً ۲٦ سال را دارا میباشد وبا۱٤ سال سابقه ورزش در رشته تکواندو تعداد زیادي از جوانان را درین رشته تربیه نموده است .

موصوف در زمینه فعالیت هاي ورزشي خویش گفتند : فعالیت کلپ هاي جـــوان وآزاد ورزشي در جامعه از اهمیت خاصي برخوردار است چرا که همین کلپ هاي آزاد ورزشي امروز هستند که سازنده فرداي روشن جامعه در دفاع از استقلال ، حاکمیت ملي ، وحراست از دین مبین اسلام در مقابل استیلاگران خارجي میگردند .

این کـــلـپ داراي ...

ودر داخـــل کـشـور میباشد که تحت نظر مـربـیـان ورزیده این کـــلپ تمرینات تکواندو را به شیوه علـمي پیش میبرند .

نبرد با معلولیت

اقتباس از
مجله
«Black belt»

در یک روز ســـرد زمستاني در شهر دنور امریکا که جز مناطق سرد سیر میباشد در ساعت ۳ بعـد از ظهـر درمـحل «هونبوانشین » مـردي معلولیکه با کراچي حرکت مـیکرد از پشت در وازه عـقـبي کلپ کاراته وارد محله تمرین میگردد .قبل از ورود او هنر جـویان او چي دشي(شبانه روزي) زیر اندازي مـخـصـوص براي کراچي مخصوص او که بتواند به محل تمرین وارد گـردد بدون اینکه کـراچي صدمه بي به کف کلپ بزند آماده نمودند . مرد معلول با بایسکل خـــود وارد مـیـشـود ، بلا فـاصله هنرجـــویان اوچي دشي لبـاسـهـاي او راتعـویض مـیکنند ولبـاس کاراته وکـمربند سیاه برتنش مي پوشانند .

(مایکل مایلز) درحدود بیست سال قبل در اثر یك حادثه ترافیکي از کمربه پائین فلج شد واستفاده از دست وبازو هایش نیـز به سختي صورت میگرفت سالها بعد او امید وپشتکار را در اراده اش یافت کـــه سـبب بدست آوردن زندگي وذهن و روحش شد .

حـدود ۹ ســـال پیش (مایکل) بنا به پیشنهاد طبیبان جهت تقویت جسم وروح خود شروع به تمرین کاراته نمود. (کانچـوني نومیا) میگوید : روشهاي تمریني مخصوص با توجه با شـرایط ویژه ایشـــان طرح ریزي گــــردید . اولین چیزیکه ما متوجه شدیم این بود که وي باتمرینات منظم قویترشد وقدرت تحرك در دستهایش پیشرفت یافت . و درحین تمرینات سخت او من بیشتر وبیشتر متوجه شجاعت و روحیه اي که او به تمام کارهایش داده بود شدم ، سال ۱۹۹۳ او موفق به دریافت کمربند سیاه گـردید ولي چیزیکه مارا بیشتر متعجب میکند این است که براي مقدار کمي ازشجاعت وقدرت روحیه بي که در تلاش خود داشتـه مـعـادل ده برابر کـار یك انسـان مـعـمـولي زحمت کشیده است .

واین حقیقت غیر قابل انکار مي باشد که مایکل نمیتواند در مـــسابقات انشین شرکت کند ولي این اصلاً براي او مشکلي نیست ، زیرا اویك قـهـرمـان در زندگي میباشد .

کانچوني نومیا خود مسئولیت تدریس مایکل را برعـــهـــده دارد . پس از تعویض لباس مراسم شروع کلاس واحترامات معمولي با حضور کانچوني نومیا ومـایکل ، دونفري انجـام میگیرد . سپس کانچوني نومـیـا به اونر مـشـهـاي مخصوص مي دهد وپس از نرمش کانچوني نومیا براي خود چوکي مـیگذارد وبر روي آن مي نشـــیـنـد درحالیکه درمقابل میت ویا لاپ تمریني و در طرف مایکل سوار بر باسیکل خود قرار دارند ودرین حالت کانچوني نومیا شروع به آمـوزش دفـاع وضـربه مینماید .

وضربات رابه میت وارد میکند ومایکل نیز همین کارها را انجام میدهد . در حقیقت عملاً او را درمقابل حریف قرار میدهد وپس از آن بوسیله مـیت با او تمرینات مخصوصي انجام مـیدهد وجالب اینکه در زمـان تمرینات او را وادار میکند که بتواند بوسیله کراچي دستي خود حرکات ساپاکي (جابجایي)را انجام دهد در پایان نیز سـوگند نامه را هردو قرائت میکنند ومراسم پاباني کلاس انجام مـیـگردد . درخـاتـمـه هنرجـویان اوچي دشي مي آیند ولباسهاي او راتعویض مـیکـنند واو نیـز ازمسیریکه واردشده خارج میگردد. مترجم استاد آرین خیبر

با بهترین کاراته کاران کشور آشنا شوید

قهرمان حرکات ترکیبي :محترم ایمل تمرینات کاراته را تحت نظر استاد عبدالغفور عاشق معاون فنی فدراسیون کاراته در شهر کابل آغاز نموده است وی در مسابقات زیادی که از طرف فدراسیون کاراته کشور تدویر یافته است اشتراک نموده و همیشه مقام قهرمانی خود را در وزن خود حفظ نموده است. اساس پیروزی هایش را تمرینات خستگی ناپذیر میداند.

قهرمان بدنسازی : محترم استاد احمد فرزاد سرحکه فدراسیون کاراته در سال ۱۳٥٦ در شکر دره ولایت کابل تولد یافته در تمام مسابقات تدویر شده داخلی و خارجی اشتراک داشته و قهرمان سنگین وزن افغانی میباشد

موصوف اینبار دعوت اشتراک مسابقات آسیایی را دریافت نموده است.

ستایل مقبول و زیبای ورزشی اش مایه افتخار فدراسیون کاراته کشور میباشد.

قهرمان مسابقات : مسعود احمد فرزند نصیر احمد تمرینات کاراته را در رشته فول کانتاکت تاپ کاراته تحت نظر استاد آرین آغاز نموده است مدت دو سال میشود که قهرمان وزن اول تیم نوجوانان کاراته کشور میباشد.

رمز پیروزی اش را تمرینات پی در پی و استفاده از رهنمایی های استاد خود میداند.

قهرمان میت :

پرویز فرزند مسافر خان تمرینات کاراته را دررشته فول کانتاکت تاپ کاراته آغاز نموده است در مسابقات سال ۱۳۷۹ تیم جوانان کاراته حایز مقام اول در وزن خود شده است .

د ملی ژغورنی د ورځی د لمانځلو په ویاړ :

د استخباراتو د لوی ریاست په ورزشی لوبغالی کی په زړه پوری ورزشی ننداری وړاندی شوی

زموږ له ګران هیواد افغانستان څخه د روسی سره پوځ د شړلو یا د ملی ژغورنی د ورځی د لمانځلو په ویاړ د تیری پنجشنبی په ورځ د ذوالقعدة الحرام د میاشتی په بوو یشتمه نیټه د استخباراتو د عمومی ریاست د سپورتی کمیټی په ورزشی لوبغالی کی په زړه پوری سپورتی لوبی او ننداری تر سره شوی.

د استخباراتو د لوی ریاست د سپورت د کمیټی بوه تن غړی محترم استاد محمد ناصر صادق د دغو لوبو د څرنګوالی په باب زموږ خبریال ته داسی څرګندونی وکړی:

زموږ له یلاړی تابوبی څخه د روسی سره پوځ د شړلو د ورځی د لمانځلو په ویاړ د استخباراتو د عمومی ریاست د سپورت او بدنی روزنی د کمیټی له خوا د دغه ریاست په ورزشی لوبغالی کی د تکواندو ، کونګ فو ، بوکس ، فوټبال او جودو په زړه پوری لوبی او ننداری تر سره شوی.

د دغو لوبو او ننداری د لیدو لپاره د المپیک د ملی کمیټی او د استخباراتو د لوی ریاست پر چارواکو او منسوبینو سربیره جهادی شخصیت او د سرحدونو چارو وزیر محترم مولوی جلال الدین حقانی او د اطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوی قدرت الله جمال هم راغلی وو .

د لوبو په پای کی د امارتی چارواکو له خوا تکړه ورزشکارانو ته نغدی جایزی ورکړل شوی.

۲۲

شرح منظومهء عروج و نزول اسلام

شفیع گردانیدن رسول الله «ص» به پیشگاه الله

استعمار مسلمین رابه نامهاي سني، شیعه و وهابي ازهم جدا کرده است

بند ۸۱

با چنین وضع نفاق ماکه شد بي منتها — دشمنان شوکت ما هم نگشتندي رضا
تا که آخر شیعه وسني و وهابي به ما — نام ماندند وزهم کردند هر یك راجدا
یا رسول الله امدادي که برهم گشته ایم — زین سیاستهاي اعدا دشمن هم گشته ایم

شرح : باوجودیکه وضع وحال مسلمانها از اثر نفاق به نهایت درجه خراب شد با آنهم دشمنان اسلام سیراب نشدند وراضي نگشتند ، بلکه در پي توطئه دیگر افتادند تا آنکه مسأله شیعه وسني و وهابي را بلند کردند و یك تعداد دیگر مسلمانها را به عناوین از همدیگر جدا نمودند و آنها را مجبور ساختند تا به روي همدیگر خنجر بکشند ودست به کشتار هم بزنند . اما اي پیامبر اسلام تو به ما کمك کن چرا که ماطعمه سیاستهاي خصمانه دشمن شده ایم وبر اساس سیاستهاي دشمن ، خصم همدیگر گشته ایم .

اگر قرآن پاك را که کلام الله «ج» است واحادیث نبوي رابدقت مطالعه نماییم کوچکترین اشاره یي در آن نمي یابیم که دال بر مذاهب مختلف در اسلام باشد . وبا بعد از رحلت پیامبر «ص» در دوران خلفاي راشدین نیز چنین چیزي به نظر نمیخورد. اما همینکه دوران صدر اسلام به پایان میرسد به اثر دسیسه وتوطئه استعمار که از قدرت روز افزون اسلام درهراس افتاده بود و با عروج اسلام به شاهراه ترقي وتکامل ، نابودي وزوال خود راکه از خدا ورسول برحقش غیر بودند حتمي میدانستند آهسته آهسته تخم نفاق وشقاق را درمیان مسلمین بذر کردند آنها را به نامهاي مختلفي چون سني ، شیعه و وهابي ازهم دور ساختند وآتش جنگ را در میان شان مشتعل ساختند وتعدادي زیاد مسلمانها رابه همین نام از بین بردند ،حتي تا امروزه روز هم کشورهاي مسلماني را سراغ داریم که به نام همین مذاهب مختلف درپي تخریب واذیت و آزار کشور اسلامي دیگر هستند وبه اشکال مختلف درمیان مسلمانان کشورهاي مختلف دشمني وخصومت را دامن میزنند ومسلمانان را به جان هم مي اندازند . که نمونه تمام عیار آن را مخصوصاً در طي جنگهاي تحمیلي اخیر درکشورما به وضاحت مشاهده کرده میتوانیم حتي گذشته از اختلافات مذهبي ، اختلافات لساني، نژادي ، منطقوي و قومي را نیز درکشورما به میان آوردند . اما نمیدانند که به نزد خداوند انسان بر اساس تقوا وپابندي اش به امر خدا وپیامبر اش قابل قدر است نه بر اساس مذهب ، قوم ، منطقه ، زبان ونژاد .

بند ۸۲

اي مسلمین جهان از اختلاف دست بکشید!

لحظه بر دار سریا سید خیرالبشر — اختلاف شیعه وسني و وهابي نگر
وعظ فرما تا کند هر فرقه صرف نظر — از تعصب پروري وکین وبغض یکدیگر
فرق قومي راهم از مابین ایشان دور کن — جمله را با عهد اخوت یکدل ومسرور کن

شرح : اي بهترین عالم یکبار سرت را بلند کن واین اختلافي راکه میان شیعه وسني و وهابي به میان آمده دقیقاً از نظر بگذران و وصیت ورهنمایي کن تا از این اختلافات ساخته وپرداخته کفار واستعمار صرف نظر کنند وتعصبات بي جاو بي مورد ودشمني وعداوت تحمیلي را کنار بگذارند واین آتش تفرقه قومي را ازمیان آنها به کرامت خویش دور ساز وهمه را بایکدیگر به اخوت ویکدلي دعوت کن ودل مسلمانان شادمان بساز ، طوریکه در بند هاي ۷٥-۸۲ به مشاهده میرسد شاعر آزرده از اختلافات گوناگون مسلمین طوري از وضع اسفناك تعصباتي که درمیان دسته هاي مختلف وجود دارد ، رنج میبرد که خواننده هنگام خوانش اشعاري که سروده است کاملاً این احساس وي را درك میکند ویا او نمیتواند همصدا نشود وعلیه اختلافات سر و صدا به راه نیاندازد ، چنانکه ما یقین داریم خوانندگان این سطور باخوانش بندهاي بالا دربرابر تبعیضات وتعصباتي که درمیان مسلمین به نامهاي مختلف از جمله به نامهاي مذاهب سني ، شیعه و وهابي است از خود نفرت وانزجار نشان میدهند .

باید گفت هنگامي که استاد ابراهیم خلیل در پهلوي دعاي مستقیم به دربار ذات حق تعالي پیغمبر بزرگوار اسلام را شفیع میگرداند در حقیقت به مسلمانان حالي میسازد که درحین بر خورد بادیگر مسلمین وگروهها وکشورهاي اسلامي سنت رسول الله در نظربگیرند یعني در نظر وعمل علیه طاغوت واشکال مختلف آن دست به مبارزه بزنند چه اگرصرف در نظر وعقیده به صورت انفرادي بخواهند در راه اسلام حرکت کنند وحرکت شان با حرکات دیگر مسلمین وجوامع اسلامي هماهنگي نداشته باشد طبعاً راههاي مختلفي در جوامع اسلامي ودرمیان مسلمین پدید مي آید که به اثر تکرار ودوري از راههاي دیگران بادگران اختلافات عمیق پیدا میکنند که درعمل طبعاًبا راههاي دیگران در تضاد وتقابل قرار میگیرد وبه ناگزیر اختلاف منافع واختلاف سلیقه پدید مي آید وموجب بروز جنگها میگردد ، اما آنچه میتواند از اختلافات جلوگیري نماید همانا ایجاد هماهنگي میان کار یك گروه مسلمین باگروههاي دیگر میباشد که خوشبختانه آنچه در مکتب فقهي امام اعظم ابو حنیفه «رح» وجود دارد وتأکیدش بیشتر برشور ومشوره وتعقل وتفکر برواقعیتهایي است که به صورت تجربي در جامعه وجهان میتواند مشاهده گردد ، راه حل خوبي براي تمام مسلمین ومذاهب گوناگون است چه میتوانند علماي مختلف مسلمان بر پایه آموزشهاي مکتب امام اعظم دورهم جمع بیابند ووضعیت مشخصي که علما در پي اصلاح آن هستند باشور ومشوره مورد شناخت قرار بدهند وبه اتفاق هم راههاي عملي رابراي حل مشکلات جستجو کنند وعامه مردم را رهبري و رهنمایي نمایند تامطابق آنچه خدا میخواهد وپیامبر اسلام درعمل آن را پیاده کرده است جامعه اسلامي را درجهان امروز بسازند .

ادامه دارد

د ملګرو ملتونو بندیزونه ...

ننګرهار، پکتیا او د کابل په ولایتونو کې په هیـواد کې د روانې وچکالۍ او دملګرو ملتـونو د بندیزونو له امله په سلګونو زره مـهاجرین د هجـرت په دیرو سـتونزمنو حـالاتو کې شـپې ورځې سبا کوي.

دې زیاتوي له دغـو مـهاجرینو سره په تیره د هرات له مهاجرینو سره نږدې ۱۵۰ ټنه خـوراکي مـواد د شهـیدانو او مـهاجرینو د وزارت له لوري مرسته شوې خو دغه مرسته په هیڅ ډول د هغوي ستونزې نشي حل کولی. موږ له مرستندویه موسسو څخه په تکرار سره ددې غوښتنه کړې چې ددغو مـهاجرینو په اړه دې خپل انساني او اخلاقي مسؤلیت درک کړي او په خپل وخت دې ورسره مرسـته وکړي چې د هغوی له جملې څخه تر اوسه د هیئة الوفا الانسانیه خیریه موسـسې ٤٠٠٠٠٠ ډالره مرسته کړې او هغه مو د مهاجرینو د وزارت له لوري د هرات مـهاجرینو ته ورلیږلي.

محترم عمري ددې پوښتنې په ځواب کې چې ایا د خـیریه مـوسسـو او همدارنګه د اسلامي امارت لخوا تر سره شوي مرستي په منظمه توګه په اړو مـهـاجرینو باندې ویشل کیږي؟ داسې وویل: بلې! موږ د یوه ځانګړي پلان له مخې هغوي ته د منصـفانه ویش پروګرام جوړوو او په ښه توګه په هغوي باندې د مرستو ویش تر سره کیږي.

ده وویل: د پاکسـتان د اسلامي جمـهوریت له لوري هم په دې وروستیو کې له مهاجرینو سره د یوې اندازې مرستې ژمنه شوې خو تر اوسـه پورې د شـهـیدانو او مهاجرینو وزارت ته ندې رسیدلې.

په پای کې محترم عمري زیاته کـړه: په هیـواد کې د ۲۲ کلنې تحمیلي جګړې له امله د اقتصادي زیرمو او منابعو له منځه تلل، روانه وچکالي او د ملګرو ملتـونو ناروا بندیزونه ټول ددې لامل دي چې زموږ مظلوم هیواد وال مهاجرت ته مخه کړي. پداسې نازکو شیبو کې د نړۍ له ټولو بشري مرستندویه لوریو څخه هیله لرو چې له موږ سره په دې اړه همکاري وکـړي او خپل اسلامي او انساني مسؤلیت تر سره کړي.

در یکي از تانك ...

تیل متذکره ضمن تایید این تخفیف به خبرنګار ما چنین یاد آور شد: ما فی لیتر تیل خاك را ۱۹٤٦۰، دیـزل را ۱۷۰۰۲ و پطرول را ۲۱۸۹٤ افغاني بفروش میرسانیم، البته در پهلوي اینکه تیل ما ۱۰ فیصد ارزانتر از نرخ بازار بفروش میرسد؛ هکذا مزیت دیگر این تیل در اینست که یکبار در ذخیره، عمومي و ثانیاً در داخل پمپ اسـتیشن به تکرار فلتـر میشود.

د چتك پست ...

جوزجان ولایت د مخابراتو رئیس محترم مولوي پیر محمد حیدري او ددغه شرکت استازي د هغـو پستي اسانتیـاوو په اړوند چې ددغـه شرکت د نماینده‌ګۍ په جوړیدو سره هیـواد والو ته برابریږي معلومات ورکړل او د لوی خدای «ج» له دربار څخه یې ددغې نماینده‌ګۍ د منسوبینو د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله وکړه.

ا.ا.ا. خواهان...

امارت اسلامی همچون سایر مهاجرین افغان وسعاً جا داده و از آخرین امکانات دست داشته خویش در قسمت آسایش و بهبود وضع زندگي آنان دریغ نکند.

این مطلب را محترم مولوي عبدالرقیب وزیر عودت مهاجرین به خبرنگار ما اظهار داشته افزود: اگر امارت اسلامي استطاعت انتقال و مساعدت براي این مهاجرین را در خود میداشت شاید امروز مهاجرین مذبور در داخل کشور از تسهیلات قابل ملاحظه مستفید میبودند، با این هم ما آماده، هر نوع خدمت براي آنان و منتظر آخرین موضعګیري موسسات خیریه بین المللي در قبال انتقال این مهاجرین بداخل کشور هستیم.

مهربان

د کابل پوهنتون...

کې د کانکور آزموینې واخیستل شوې چې دا حوزې په لاندې ډول ټاکل شوې وې:

۱- د کابل حوزه چې د لوګر، غـزني، میدان وردګ، پروان او کاپیسا ولایتونه پکې شامل دي

۲- د ننګرهار حـوزه چې د لغمان او کونړ د ولایتونو او له پولي هاخوا فارغ التحصیلان پکې شامل دي.

۳- د هرات حوزه چې د بادغیس، فراه او غور ولایتونه احتوا، کوي.

٤- د بلخ حوزه چې د جوزجان، فاریاب او سرپل ولایتونه پکې شامل دي.

٥- د کندهار په حوزه کې د زابل، نیمروز او ارزګان ولایتونه برخه لري.

٦- د کندز حوزه: چې د بغلان تخار او بدخشان د ولایتونو د ولسـو ټولګیو فارغان پکې شامل دي.

۷- او د خوست په حوزه کې بیا د پکتیا او پکتیکا د ولایتونو او له پولي هاخوا محصلان شامل دي.

دیادونې وړ ده چې سږ کال ترهر بل کاله زیاتو محصلانو د کانکور په آزموینه کې ګډون درلود. زموږ د کانکور په لومړنۍ آزموینه کې چې د روژې د میاشتې په ۲۲ نیټه د کابل طب انستیټوت او همدارنګه د هیواد په نورو حوزو کې ترسره شوې په مجموعي ډول نږدې ۸۰۰۰ محصلانو برخه درلوده. چې له دې جملې څخه ۱۲۰۰ محصلانو د ننګرهار په حوزه کې. ۲۸۰۰ محصلانو د کابل په حوزه کې. ٥۰۰ محصلانو د هرات په حوزه کې. ۷۰۰تنو محصلانو د مزارشریف په حوزه کې. ۳۰۰ تنو د کندهار په حوزه کې. ۳۰۰ تنو د کندز په حـوزه کې او ٤۰۰ محـصلانو د خوست په حوزه کې د کانکور په آزموینو کې ګډون درلود.

دې زیاتوي: د محصلانو ریاست له هغه وخت څخه چې یو محصل په لومړي ټولګي کې شامليږي بیا تر هغه وخته چې له وروستي ټولګي نه فارغیږي د هغه ټول اسناد او تحصیلي چارې ترغور او کنټرول لاندې نیسي د هغه تأجیل، تبدیلي، منفکي، او د دیپلوم اجرا، کول ټول په دغه ریاست پورې اړه لري. موږ تل دا هڅه کوو چې کوم اصولي کارونه چې په دې اړوند موږ ته راجع کیږي هغه په لنډ وخت کې په ورین تندي سره اجرا، کړو.

ده زیاته کړه: په روان کال کې د کابل پوهنتون له ځوارلس ګونو پوهنځیو څخه نږدې ٤۰۰ تنه محصلین فارغ او ټولنې ته د خدمت په مقصد ورانـدې شوي دي.

سږ کال دلوړو زده کړو وزارت او دملي دفاع او کورنیو چارو دوزارتونو او داستخباراتو دلوې ریاست ترمنځ دیوه ګډ لاسلیک شوي پروتوکول له مخې د دغو ارګانونو له خوا ۳۵۰ تنه محـصلین د کانکور په عمومي آزموینه کې د ګډون لپاره موږ ته رامعرفي شـوي ؤ چې د هغوي له سهمیې سره سم په موږ بیرته دغه محصلین ور معرفي کړو.

په پای کې محترم ملاخیل دلیلي په هکله وویل چې د کابل پوهنتون لیلیه فعاله او د پوهنتون پر محـصلینو بر سیـره د کابل طب انستیټوت محصلین هم اعاشه او اباته کـوي چې اوس په لیلیه کې د شاملو محصلینو شمیر ۲۷۰۰ تنو ته رسیږي. او په دې برخه کې هیڅ ډول ستونزې نشته.

ذبیح الله «عزیزي»

منبع هیات خاص...

کاري خویش ندارند وظیفه خواهند داشت تا از این به بعد در صورت بروز مشکلات بشري در افغانستان بدون تأني و تعلل ضد ي فقر و بیچارګي مهاجرین، مصیبت زده ګان و مردمان بي بضاعت افغان را به ګوش مجامع بین المللي برسانند.

البته این هیئت که وظیفه انجام خدمات بشري را به عـهده دارد میتواند بطور مستثني در شرایط تشدید تعزیرات به خارج از کشور سفر نماید.

مهربان

په فلسطین کي ...

منځته راغلي دي.

د یو بل خبر له مخې د لبنان د حزب الله مجاهدینو د هغه هیواد په سرحدي سیمو کې د صهیونیستي اشغالګرو په یوه ګزمه برید کړی چې د دغه برید له امله یو تن برغلګر ووژل شو او دوه تنه نور ټپیان شول.

یه پارکنګ وسایط...

چنین اضافه داشت:

این توقفګاه که در منطقه تانك مولوي شهر هرات احداث ګردیده ګنجایش ۲۰۰۰ واسطه باربري و تیز رفتار را در خود دارد.

وي افزود: هزینه اعمار این توقفګاه که حدود یك ملیاردو هفتصد ملیون میګردد از جانب سکتور هاي خصوصي شهر هرات پرداخته شده است؛ البته این توقفګاه در خدمت وسایط باربري سکتور هاي خصوصي و سایر وسایط تیز رفتار شهري بوده و در سطح شـهر هرات بزرګترین پارکینګ وسایط میباشد.

په هرات کي...

شهیدانو او مهاجرینو د چارو رئیس محترم سید راز محمد آغا په دغه ولایت کې د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریال ته څرګند کړ او زیاته یې کړه: نن د افغاني سري میاشتې د عالي ټولنې د مرستې څه د پاسه دیرش ټنه خـرما د دوو تنو ملي سوداګرو د مرستې شپږ زره شړۍ او څلور زره جـوړې کلوشې او د یوې کورنۍ غیـر حکومتي موسسې آر. آر. پی د مرستې اته ویشت ټنه اوړه، پنځه دیرش ټنه غوړي دولس ټنه وریجې او اووه سوه شړۍ د هرات ولایت د روضه باغ شـهیدایي او د مسلخ په کمپونو کې په میشتو مهاجرینو باندې ویشل شوي دي.

د هرات له ولایت څخه د یو بل خبر له مخې په تیرو څلیرویشتو ساعتو کې په دغو کمپونو کې دوه تنه ماشومان او دوه تنه نارینه په حق رسیدلي دي.

آسیاب خبر ...

نموده ثانیاً شستشو داده و ثالثاً هم به تفکیك آرد درجه اول، دوم، سوم و سوجي تبدیل نماید.

منبع افزود: با فعال شدن این آسیاب براي ۱۰۰ نفر کارګر زمینه کاریابي فراهم ګردید.

موسسات و تجار ملي میتوانند بعد از این در بدل اجرت از این آسیاب مستفید شوند.

مرکز ولایت بامیان...

بامیان ګردیده و ضربات کوبنده را علیه دشمنان صلح و آرامش وارد نمودند.

در نتیجه این عملیات موفقانه که مدت دو ساعت را در بر ګرفت مرکز شهر بامیان کاملاً زیر سلطه فاتحین اردوي امارت اسلامي در آمده و ملیشه هاي باغي فرار را بر قرار ترجیح داده و در مغاره هاي کوه هاي مرکزي متواري ګردیدند.

فعلاً نیرو هاي جدید الورود اردوي اسلامي کاملاً وضعیت را تحت سلطه خود در آورده و عملیات تصفیوي خود را علیه شر افګنان ادامه میدهند.

نا ګفته نماند که ملیشه هاي مزدور بخاطر سردي هوا و تعمیل دستورات باداران اجنبي خود روز چهارشنبه ګذشته وضعیت آرام شهر بامیان را مختل نموده و آنرا به تصرف خود در آورده بودند ولي دیري نګذشت که فاتحین اردوي اسلامي مجدداً با مورال عالي وارد صحنه ګردیده و ساکنین مظلوم شهر بامیان را از شر این شر افګنان نجات دادند. و اوشان را بجزاي اعمال شان رسانیدند.

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
خلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
[illegible]	US$75	US$150

په ننګرهار کي...

درمل د ننګرهار ولایت د مقام د محکمو د ریاست ښاروالی د عامې روغتیا د ریاست او د استخباراتو د ریاست د استازو په ګډون د یوه هیأت لخوا د جلال آباد ښارد مخابراتو په چوک کې په عام محضر کې وسوزول شول.

د ختیځ زون د عامې روغتیا د رئیس محترم ملا شیر علی حنفي په خبره دغه درمل د جلال آباد ښار د اړوندو ناحیو له درملتونو څخه د موظف هیئت لخوا راټول او سوزول شویدي او ټوله بیه یې کابو سل ملیونه افغانۍ اټکل شویده.

موسسه ACRU

رؤسای برخی از موسسات بین المللی و اهالی منطقه مذبور افتتاح ګردید.

خبرنګار ما که درمراسم افتتاح این شبکه اشتراك داشت جزئیات موضوع را چنین ګزارش داد:

این شبکه که دارای ۸.۷ کیلو متر طول، ٤٥ متر مکعب ظرفیت ذخیروي و ۲۰ شیردهن می باشد به کمك مالی موسسات: کانادا فند، پروګرام غذایی جهان، پاملرنه و اکرو بسر رسیده است.

محترم انجنیر بریالی عمرزی مسؤل موسسه ساختمانی اکرو در زمینه اذعان داشت که کار این پروژه به مصرف مجموعی ۳۲ تن ګندم البته کار در مقابل غذا و یك ملیون و هفتصد هزار روپیه پاکستانی موفقانه انجام یافت.

وی افزود: در شرایط کنونی شبکه متذکره بزرګترین پروژه آبرسانی در سطح ولایت لوګر تلقی شده که میتواند مدت ۱۰ سال اهالی ٤ قریه را در سرخاب با تضمین قوی بدون تأنی و تعلل آب آشامیدنی صحی بدهد

قابل تذکر است که موسسه ساختمانی اکرو با داشتن ۱۰ سال سابقه کار در عرصه اعمار سرك ها، پلها، کاریز ها، شبکه های آبرسانی و ... بیشتر از ٦۰ پروژه را در سطح ولایات کشور موفقانه بسر رسانیده است.

ایران له مخالفینو...

ځمکې له لارې د افغانستان په شمال ختیځ کې د قوماندان احمد شاه مسعود اډې ته استول شویدي او یو شمیر نور یې د غور او بادغیس شمال لویدیځ ولایتونو کې د مخالفینو ډلې د تقویه کولو له پاره هغو ولایتونو ته لیږل شوي دي.

جیمز دیفنز لیکي چې د تالقانو ښار له سقوط نه وروسته ایران ددغو پوځونو په استولو ددې لپاره پیل وکړ چې د مخالفینو لیکې چې د سرېو د نشتوالي او کموالي له ستونزې سره مخامخ دي تقویه شي.

د جیمز دیفنز نشریه لیکي داسې ښکاري چې د افغانستان شمال ختیځ او شمال لویدیځو سیمو ته ددغو پوځونو د استولو هدف دا دی چې د افغانستان اسلامي امارت قوتونو باندې ځای ځای ګوزارونه وکړي او مصروف یې وساتي.

جیمز دیفنز لیکي چې ایران، روسیې او په دې تازه وختونو کې لا هند د مخالفینو اتحاد ته د افغانستان په شمال کې مرستې لیږلې دي او ملاتړ یې کوي او دا ځکه چې دغه درې واړه هیوادونه به د افغانستان په شمال ختیځ کې د افغانستان د اسلامي امارت له سوبو او له هغه ځای نه هم د مخالفینو له بیخي شړل کیدونه په لویې ویرې کې دي.

کابل پوهنتون ...

چې د هیـواد له ملي او فرهنګي شخصیتونو څخه دي او اوس په لندن کې اوسیږي د کابل پوهنتون د علمي او فرهنګي بډاینې په مقصد د څلورنیم لکو پاکستاني کلدارو په ارزښت یې د ساینس او کمپیوټر کتابونه کابل پوهنتون ته ورکړیدي چې د کابل پوهنتون د لوی رئیس محترم مولوي پیر محمد روحاني لخوا په کور ودانی سره ومنل شول.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: **Abdurrahim "Saqeb"**
Editor: **Ghulam M. Farooq**
Printed by: Emirate's Printing Press

خبرتیا

د افغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان «شریعت اوونیزه» د ۱٤۲۲ هـ ق کال لپاره ګډون کوونکي مني.

د ګډون کلنی ونډه په مرکز کې (٤۰۰۰۰) افغاني او شپږ میاشتني (۲۰۰۰۰) افغاني په ولایتونو کې د ګډون کلنی ونډه (٥۰۰۰۰) افغاني او شپږ میاشتني (۲٥۰۰۰) افغاني.

دغه راز له هیواد نه بهر د ګډون کلنی ونډه (۱٥۰) امریکایي ډالره او شپږ میاشتني (۷٥) ډالره او د مدرسو د زده کوونکو لپاره نیمه بیه په پام کې نیول شوې ده.

که چیرې د هیواد له سیاسي، نظامي، اقتصادي، فرهنګي او ... جریاناتو سره مینه لـرئ او غواړئ چې خبر شئ نو په «شریعت اوونیزه» کې ګډون وکړئ.

اداره